# پټه خزانه چا، چیري او څنګه پیدا کړه ؟

علامه عبدالعلي اخندزاده خالوزی کاکړ ما له ۱۳۳۸ هـ ق راهیسته پېژندئ، زه به د لسو کالو وم چې د کندهار یوه سندرغاړي "باغی اخندزاده" به د عبدالعلي بدلي د ارغنداو په ګڼو باغو کښي ویلې او دده رغ به مځکه او آسمان رېرداوه.

ښه مي په یاد دي : یوه شپه ئې بدله ویله چي مطلع ئې دا وه :

مخ ګرزوي په بیرته ستمګر ولي له مـــا ؟
جهان په لمر روښان، پټوې لمر ولي له ما ؟

دا بدله د عبدالعلي اخندزاده د پښین د لوی عالم او فکور شاعر ده. ددغه شاعر یوې بلي بدلي ماته په ځواني، کښي د فلسفي تفکر اندېښنه را بخښلې وه چي ویلي ئې وه :

سحر راتلم په ګلشن کي، ژړل راباندي مرغانو
ګلانو تویول په ورو سراسر د زړه غم پر مـــا
کوې عبدالعلي هردم ګله پر څه له خوبانـــو ؟
رقم ظلم و ستم کش کئ پخوا لوح و قلم پر ما

د ۱۳۱۴ ش کال په ژمي چې زه هند ته تلم د کوټې په بازار کښې مې دغه اخندزاده د طبابت پر دکان ناست ولید دغه وخت زه د کندهار د طلوع افغان مدیر وم، او زما اخبار به علامه عبدالعلي ته استول کېدی.

ده چې زه وپېژندلم په ډېره مینه ئې پر تندي مچ کړم او ما ده ته سره لومړی پلا وکتل او د زړه خواله مو سره وکړه.

څلور کاله وروسته چې ما د طلوعِ افغان په پاڼو کښې د پښتو ادب څېړني وړ کې او ناپېژندلي برخې سره څېړلې او را برسېره کولې، له کوټې څخه د علامه عبدالعلي یو پیغام راورسېد چې ده د پښتو یو قدیمه تذکره موندلې ده، او که د هغې د چاپولو امکان د کندهار په مطبعه کښې وي، نو به ئې دی راواستوي. دا پیغام ماته چې د قدیم پښتو ادب یوې پاڼې یا یوه بیت ته هم تږي وم، د زوی زېری و، او ما ورته وویل چې زه پخپله کوټې ته درځم او هغه ګورم.

آ بېه ! د خدای کاروبه وو، چې زه ژر وره نغلم، او په ۱۳۱۹ ش کال له کندهار کابل ته راغلم او دلته د پښتو ټولنې مشر شوم، او په رسمي کارو داسې اړ سوم چې د ۱۳۲۰ ش کال تر ژمي پورې د سر ګرولو ته هم نه وم خلاص.

څو چې د ۱۳۲۲ ش کال په پسرلي کښې زه کوټې ته ولاړم، او له خپل زاړه آشنا او خواخوږي مشر عبدالعلي اخندزاده سره مې ولیدل، او ده هغه معهود کتاب ماته رابنکاره کې.

زما چې ستر ګې پر ولګېدې یوه "پټه خزانه" وه چې دمخه نه ما نه بل چا هغه لیدلې وه ما اروابناد اخندازاده ته وویل چې دا خو په رښتیا هم پټه خزانه ده که ئې ماته راکې، زه به ئې چاپ کم او جهان ته به ښکاره سي.

پر اخندزاده دي خدای ورحمیږي زما په خبره بیخي خوښ سو، تندی ئې ورین سو شونډان ئې موسکي سول وې ویل :

" ما خو تاته ساتلي وه ، واثې خله، او چاپ ئې کـه ! خـو ګـران کتاب دی حواشي او توضیحات غواړي، باید داسي چاپ سي چـي هـر څوک په وپوهېدلای سي."

تر دې وروسته دا "پټه خزانه" را برسېره سوه، او ما څو واره چاپ کړه، چي د پښتو ادب تاریخ ئې تر زرو کالو د مخې زمانې ورساوه، او هغـه خطـي نسخه اوس د کابـل د خطـي نسـخو پـه کتابخانـه کښـي خوندي ده.

مګر اخندزاده د خپلو خاصو مصالحو لپاره زما څخـه دا خـواهش هم وکئ چي په چاپ کي به ئې زما نوم نه اخلې نو ځکه تر هغـو چـي هغـه مرحـوم ژونـدی وُ، مـا دده نـوم نـه اخیسـتئ، او دا راز دده یو امانت وُ.

کله چي دده تر وفات وروسته زما څخه چا پوښتنه کـړې ده نـو مـا دغه حقیقت نه دی پټ کړی، او د ارواښاد عبدالعلي اخنـدزاده پـه یـاد اوس هم دا څو کرښي کاږم، او دا منم چي که هغه مرحوم دغه کتـاب په کوټه او پښین کښي نه وای پیدا کړی، نو به اوس د پښتو ژبي او ادب ددغی تاریخي خزانې څخه لاس توری وای.

زه نه پوهېږم چي د مرحوم علامه د خپـل نـوم د نـه ښکـاره کولـو علت څـه وُ ؟ مګـر چـي دی ژونـدی وُ ، زه دده د غوښـت پـه پوراینـه اخلاقاً مکلف وم. اوس چي دی تر دنیا تیر دی زه دده حق مـنم او اروا ئې ښاد غواړم.(۱)

---

(۱) تاریخي پلټني، د مقالو مجموعه، ۱_۴ مخونه.